سر یال نمبر: 518

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# باجور: له افغان خاورې د خوارجو د دراندزيۍ هڅه ناکامه کړی شوی

# درې خوارج جهنم ته استول شوی

د باجوړ په سرحدي سيمه کې د پاک افغان پولې نه د خوارجو د دراندازي يوه بله هڅه ناکامه کولو په مهال امنيتي ځواکونو درې خوارج وژلي دي۔

د تفصيلاتو له مخې د اپرېل په 23مه او 24مه شپه په پوله تعينات شوي امنيتي اهلکارو د دارنداز کوشش شنډ کړی او يو ترهګر يې وواژه او پاتې ترهګر خپل وژل شوي ملګري پرېښودی او تښتېدلی۔

وروسته خوارج هڅه وکړه چې د وژل شوي ملګري جسد را پورته کړي، چې په پوله ميشتو ځوانانو د ډېر مستعدي او مسلکيتوب په ښودلو سره تروريستان په نښه کړل او دوه نور خوارج .يې جهنم ته ولېږل۔

يو ځل بيا د پولې په اوږدو کې ځای پر ځای شوي افغان طالبان د خوارجو سره بشپړ ملاتړ .کوي او د پاکستان ضد پلانونو د اسانه کولو په ترڅ کې يې پر پاکستاني پوستو ډزې کړې د افغانستان موقت حکومت په قصدي توګه د تي تي پي ترهګر له پولې هاخوا پاکستان ته .هڅوي چې مړه شي۔

د افغانستان له خاورې د خوارجو د دراندازي ناکامه هڅې د افغان موقت حکومت هغه ادعاوې تر پوښتنې لاندې راولي چې د تي تي پي د موجوديت په اړه يې رد کړي دي. که دا لړۍ همداسې دوام وکړي، نو د پخوا په څېر، پاکستان د يو اړخيز اقدام حق لري۔

www.publicvoice.pk

مورخہ: ۲۵ اپریل ۲۰۲۴ء